MINISTÈRE
DE LA SANTÉ
ET DE LA PRÉVENTION
Liberté
Égalité
Fraternité

INSTITUT
NATIONAL
DU CANCER

# مور هيڅ کله هم ډېر خوندي نه يو.

## د (HPV) سرطانونو ضد واکسین

د ټولو ۱۱ کلنو او لوړ عمر درلودونکو هلوکانو او نجونو لپاره.

عملي لارښود



د انساني پاپلوما ويروس (Human Papillomavirus)

## يو خوندي او اغېز کوونکی واکسين

## څو زما ماشوم له (HPV) سرطانونو څخه وساتي.

**ستاسی ماشوم د ښوونځي په ۵م صنف کې دی او ستاسې د اجازې وروسته کېدای شي:**

- هغه د زدکړو په محل کې د يوه روغتيا پال لخوا واکسين شي.
- هغه ته به دوه ډوزه واکسين ورکړل شي، چې ترمنځ به يې ۶ مياشتي فاصله وي.
- دا واکسينونه تاسې ته په وړيا ډول درکول کېږي.

تر دې دمه پوري د نړی په نږدې ۸۰ هيوادونو کې تر ۱۰۰ ميليونه ډېر ماشومان او نوي ځوانان واکسين کړل شوي دي.

په دې اړه د اضافي معلوماتو لپاره له خپل اړوند روغتيا پال سره خبري وکړئ يا هم دې ادرس ته مراجعه وکړئ: vaccination-hpv.e-cancer.fr

مې – 2023 – INCa – SIREN : 187 512 777 – پر عامو سړکونو يې مه غورځوئ

AUSTRALIE.GAD

## واکسين په عملي ډول

### څه وخت بايد خپل ماشوم واکسين کړم؟

له ۱۱ کلنۍ څخه وروسته مو د ماشومانو واکسين کول د واکسين ډېر موثريت تضمينوي.

زما ماشوم دی:

- د ۱۱ او ۱۴ کلونو ترمنځ دی: يوازې دوه ډوزه واکسين بايد واخلي.
- د ۱۵ او ۱۹ کلونو ترمنځ دی: بايد درې ډوزه واکسين واخلي.

اړينه ده وپوهېږئ: د (dTcaP) واکسين لپاره د ملاقات وخت واخلئ، کوم چې له ۱۱ تر ۱۳ کلونو عمر درلودونکو کسانو لپاره په نظر کې نيول شوی دی. له دې سره يو ځای به د (HPV) يو ډوز هم ماشوم ته ولګول شي.

*د ډيفتيريا ضد واکسين (D)، د تيتانوس (T)، د توري ټوخلې (Ca) او د ګوزڼ ضد واکسين (P).

### څنګه کولای شم خپل ماشوم واکسين کړم؟

د دواړو، لوڼو او زامنو په اړه غواړم لاندې ټکو ته اشاره وکړم:

- يو ډاکټر
- يو درمل جوړوونکی
- يوه قابله
- يوه نرسه
- د واکسيناسيون ښاري يا اداري خدمتونه (له خپلې اداري شورا يا اړوند دولتي دفتر څخه معلومات تر لاسه کړئ.)

### د (HPV) واکسين څومره لګښت لري؟

- د واکسين د هر ډوز ۶۵ فيصده لګښت ستاسې د فنډ صحي بيمې لخوا ورکول کېږي. باقي مانده لګښت يې په عمومي توګه د بشپړوونکې بيمې (دوه اړخيزې بيمې او نورو) له لارې بيرته ورکول کېږي.
- واکسين کېدای شي، چې د واکسين په ځينو ښاري او اداري مرکزونو کې وړيا وي.
- هغه کسان چې له پيوستون اضافي روغتيايي بيمې (CSS) او دولتي روغتيايي خدمتونو څخه ګټه پورته کوي، له ټولو لګښتونو معاف دي.

# راځئ د انساني پاپلوما ویروس په اړه پوهاوی تر لاسه کړو.

## د (HPV) څه دی؟

**دا (HPV) انساني ويرسونه دي، چې د پاپلوما ويروس په نوم يادېږي.**

په سلو کې ۸۰ تنه ښځې او نر د خپل ژوند پرمهال په دغه ويروس ککړېږي. د (HPV) انفيکشن معمولاً د څو مياشتو موده کې له منځه ځي، خو يوه کوچنۍ اندازه ممکن پاته شي او ناروغۍ ته وده ورکړي.

## د (HPV) ويرسونه څه ډول له يو کس بل ته لېږدول کېږي؟

دا ويرسونه په تناسلي برخو کې له عادي تماس نيولو سره، په ځانګړې ډول د کوروالي د کولو پرمهال د تناسلي الې د دخول او نه دخول په دواړو حالاتو کې له يو کس څخه بل کس ته لېږدول کېږي.

## د (HPV) ويرسونو او سرطانونو ترمنځ څه اړيکه شتون لري؟

د (HPV) نږدې ۲۰۰ ډولونه موجود دي، چې يو تعداد يې تر سرطان مخکې زخمونو او سرطان لامل ګرځي.
د (HPV) ويرسونه د مقعدي غودو د رامنځته کيدو سبب هم کيږي.

## پاپلوما ويرسونه هر کال په فرانسه کې د سرطان د ۶۴۰۰ نويو پيښو سبب کيږي.

سره له دې، چې د (HPV) ويرسونه عمدتاً ښځې متضرره کوي،خو يو پر څلورمه برخه يې سړيو ته ضرر پېښوي.

د (Shield او Hartwig ۲۰۱۵) پر اساس، په ۲۰۱۵ کال کې په فرانسه کې د (HPV) په ناروغيو د اخته شويو ښځو او سړيو تعداد

| | ښځې | سړي |
|---|---|---|
| د تناسلي آلې سرطان / د رحم د خولې او فرج سرطان | ۲۰۰ | ۱۰۰ |
| د مقعد سرطان | ۱۱۰۰ | ۴۰۰ |
| اوروفارنکس (د خولې، ستونې او نورو) سرطانونه | ۴۰۰ | ۱۳۰۰ |
| د رحم د خولې سرطانونه | ۲۹۰۰ | --- |
| د فرج، رحم او مقعد تر سرطان مخکني زخمونه | له ۲۵۰۰ تر ۳۰۰۰ | ۱۳۰ |
| د رحم د خولې تر سرطان مخکې زخمونه (CIN 2+) | نږدې ۳۰۰۰۰ | — |
| مقعدي غودي | نږدې ۵۰۰۰۰ | نږدې ۵۰۰۰۰ |

# زه د (HPV) سرطانونو ضد واکسين په اړه خبر شوم.

ولې بايد خپل ماشوم واکسين کړم؟

واکسين د (HPV) پر وړاندې ستاسې له ماشوم څخه ساتنه کوي، ځکه چې د (HPV) تر ۹۰ فيصده ډېر انتانونه د سرطان لامل ګرځي.

د لاندې خطراتو د مخنيوي لپاره يې د هلوکانو او نجونو دواړو لپاره سپارښتنه کيږي:

- تر سرطان مخکې زخمونه اويا هم د رحم د خولې، ولوا، فرج او مقعد سرطان
- نرم خو دردناک زخمونه، چې په پوست کې يا د مقعد او تناسلې ساحې مغز غشا ( verrues anogénitales) کې پيدا کيږي.

## خوندي او اغېزمن واکسين

| کلکه نړيواله څارنه | د څه باندې ۱۰ کلونو په موده کې په فرانسه کې تر ۶ ميليونه اضافه او په ټوله نړۍ کې تر ۳۰۰ ميليونه د ډېرو ډوزونه سپارښتنه شوې ده. |
|---|---|

**د (HPV) واکسينونو په پراخه کچه استعمال، د نړۍ په کچه په مختلفو هيوادونو کې د څارني سيستمونو تطبيق او د ځانګړو مطالعاتو په پايله کې، چې د (WHO) لخوا هم تاييد شوي، د واکسينونو خونديتوب ثابت شوی دی.**

په دې توګه نو، د مثال په توګه، ددې واکسينونو او اتوميمون ناروغيو ترمنځ هيڅ اړيکه نه ده تثبيت شوې.

د (HPV) پر وړاندې د واکسينونو اغېزمنيتا (د سرطانونو او د رحم په خوله کې او په ښځو او سړيو کې تر سرطان مخکنيو زخمونو کمښت) د استراليا په شان هيوادونو کې، چيرې چې د واکسين شويو ځوانانو تعداد زياد دی، په ښه توګه سره ليدل کيږي.

---